انجنیر سلطان جان کلیوال ۲۰۱٦/۱۲/۰۹

# د افغانستان لیتیوم او د زیرمو لوټ

## لمړی برخه

د افغانستان معدنی زخیرو، د لیتیومو د زخیرو ډرامې او د دی زخیرو چور چپاول ته یوه لنډه کتنه:

پخوا له دی چی په افغانستان کی جیولوجیکی ځیرني او د کاني ( معدني) موادو منظم مطالعات تر سره شی، ځنی داسی شواهد وجود لری چی زرونه کلونه وړاندی د افغانستان د لاجوردو د معدن په هکله معلومات موجود وو، زمونږ د یوه شوروی استاد پروفیسور سلاوین له قوله چی محترم استاد نوزادی صاحب ورسره د اسیستانت په توګه د کابل د پولی تخنیک د انستیتوت د جامدو معدنونو په پوهنځی کی مرسته کوله، د بدخشان د لاجوردو په هکله داسی وینا راته په یاد ده: پروفیسر سلاوین ویل:« د مصر د فرعونانو په قبرونو کی کارول شوی لاجورد له بدخشان نه وړل شویدی» پروفیسور سلاوین په نړیواله سطحه د جیالوجی د علم یو پیژندل شوی شخصیت او د جیالوجی په علم پوری مربوط د ډیر کتابونو مؤلف دی. هغه ویل چی «ما په ډیرو افریقای هیوادونو کی کار کړیدی او په دادمنه توګه ویلای شم چی د افریقا په ټوله لویه وچه کی د لاجوردو معدن وجود نه لری، کوم لاجورد چی د فرعونانو په اهرامونو کی کارول شویدی، په اطمنان سره ویلای شم چی دا د بدخشان لاجورد دی». په هر صورت په افغانستان کی د جیولوجیکی منظمو ځیرنو نه مخکی د د دی وطن ستر عالم ابوریحان البیرونی د کابل د دریاب د بهیدنې په مسیر کی جیالوجیکی ځیرنی کړیدی او د همد

### د ځیرنو او مطالعاتو تاریخچه:

په افغانستان کی جیالوجیکی ځیرنې د لومړی ځل د پاره د (۱۹) پیړۍ په اوایلو کی کله چی انګریزانو د هند په لویه وچه تسلط پیداکړ، د انګریزی جیالوجستانو په ذریعه چی د عسکری قطعاتو سره افغانستان ته راغلی ول پیل شول ( انګریزانو به چی هره منطقه ونیوله نو هلته یی د کاني زیرمو د کشف د پاره د مسلکی او فني کسانو په ګمارلو سره د معلوماتو د تر لاسه کولو کار په لومړیتوبونو کی راته) دوی په افغانستان کی هم د ګریسباخ او هایدن تر مشرۍ لاندی جیالوجیکی ټیمونو ته د ځیرنو وظیفه ورکړله. دوی هم د کابل د دریاب د بهیدنې د مسیر په اوږدو کی یوه جیالوجیکی مقطع جوړه کړه او د احجارو نوعیت یی ځانه معلوم کړ. د دوی تر لنډو ځیرنو وروسته انګریزانو



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

هندوستانی جیالوجستان هم د نورو څیړنو د پاره افغانستان ته د ځان سره را وستل، خو ددوی مطالعاتو څکه ادامه و نه میندله چی انګریزانو ته په افغانستان کی د دمی ځای پیدا نه شو.

د همدی (۱۹) پیړی په اوږدو کی د جرمنی، ایتالیا او فرانسی د هیوادونو د جیالوجستانو ګروپونه، فیورباخ (جرمنی)، لاپرانت (ایتالوی) او منیسیی (فرانسوی) جیالوجستانو په مشری افغانستان ته راغلل او بیلا بیلو برخو کی یی څیړنی پیل کړی، ګټور کارونه یی سرته ورسول، خو نړیوالو لومړنی او دویمی عمومی جګړی ورته د کارکولو زمینه له منځه یوړله او له همدی کبله یی څیړنی نامکملی پاتی شوی، خو د دی خبر یی ورکړ چی افغانستان د کانی زیرمو د لرلو له لحاظه یو غنی هیواد دی.

تردی مرحلی وروسته بیا د شلمی پیړی په ورستی نیمایی کی د وخت د شوروی اتحاد د خارجی جیالوجیکی څیړنو اداری د افغانستان د دولت سره د یوه رسمی قرارداد له مخی په ټول هیواد کی جیالوجیکی کار پیل کړ. د مقدماتی جیالوجیکی سفرونو نه وروسته یی په (۱۹۵۸) زیږدیز کال کی د افغان جیالوجستانو سره یوځای منظم مطالعات پیل کړل. دوی دواړو افغانی او شوروی جیالوجستانو په ګډه سره پوره شل کاله کار وکړ تر څو په دی بریالی شول چی کال (۱۹۷۷) زیږدیز کی د (۱:۵۰۰،۰۰۰) په مقیاس د ټول هیواد جیالوجیکی او معدنی نقشی جوړی شوی او د دی کار په سرته رسیدو او د دی ستری پروژی په تکمیل سره د افغانستان جیالوجیکی جوړښت او د احجارو یا ډبرو نوعیت او موقعیت د منطقی په تناسب په لوړه درجه مطالعه او تثبیت شو، د ناریه احجارو، میتامورفیک احجارو او رسوبی احجارو فارمیشنونه او جوړښتونه په ټول هیواد کی په دغو نقشو کی و ښوول شول. د دی تر څنګ د همدی کار په ټول جریان کی په سلګونه فلزی او غیر فلزی معدنونه، د قیمتی او نیمه قیمتی احجارو معدنونه او معدنی مظاهر او همدارنګه په زرګونو معدني اثار کشف او د زکر شوی مقیاس په معدنی نقشه کی و ښوول شول.

د یادولو وړ یی بولم چی دا دروند او په هیواد کی تر ټولو لوی او ګټور کار له پیل څخه تر ختمه پوری د شوروی اتحاد د متخصصینو سره د افغانی متخصصینو او انجنیرانو د فعال ګډون ثمره وه. په دی څیړنو کی د افغانی جیالوجستانو شمیر ډیر زیات دی چی د څو مشرانو نو مونه یی دادی: داکتر عبدالله شارق، داکتر اجرالدین حشمت،داکتر عظیمی، داکتر میرزاد، داکتر طاهر ګیرووال، داکتر صمد صلاح،داکتر حمید، داکتر ثبات، داکتر نسیم، داکتر میر اکبر، داکتر احمدقلی، انجنیر عصمت الله، انجنیر عارف فاخر، انجنیر غلام علی غرمل، انجنیر ګلجانان مسعود، او زما په شمول د کابل د پولی تخنیک له انستیتوت او د کابل پوهنتون د سائینس پوهنځی څخه د ګنو فارغ شوو انجنیرانو لکه اجنیر غلام رسول نبی، انجنیر مسعود رحیم، انجنیر محمد حکیم، انجنیر زمرک، انجنیر عبدالحق، انجنیر اصف،انجنیر سیدعمر،انجنیر سرور، انجنیر هاشم او په لسګونو نورو ځوانو مسلکی کدرونو هم په ساحوی کار او هم په لابراتوری کارونو کی ډیره فعاله ونډه درلوده.

د دی ستری دولتی پروژی د کار د جریان سره یوځای د هیواد په ځینو سترو معدنونو باندی چی یو شمیر یی لا پخوا کشف شوی ول اویو شمیریی د همدی پروژی په جریان کی کشف او ومیندل شول تخصصی او اکتشاف کارونه هم پیل شول. د هیواد په شمالی برخه کی د نفتو او ګازو په معدن باندی د کار په نتیجه کی په دی مرحله کی د (۱۶۰۰) میلیونو بیلرو پوری د خامو تیلو، د (۴۴۴) بیلیون متر مکعب طبیعی ګاز او تر (۵۶۰) میلیونه بیلره پوری د مایع ګاز زخایر تثبیت شول.

همدارنگه د بابا د غرونو په سلسله کې، د باميانو په ولايت پورې مربوط د کالو په دره کې د حاجي گک د او سپنې معدن چې د نړۍ د سترو معدنونو په قطار کې راځي، په (۱۶) بيلا بيلو زونونو کې چې هر زون يې تر (۵) کيلو مترو پورې طول لري او مجموعي اوږد والي يې تر (۳۲) کيلومتره پورې رسيږي کشف شو. د معدني ډبرو ژوروالي (عمق) تر (۵۵۰) مترو پورې، عرض يې تر (۴۰۰) مترو پورې اندازه شويدي. په دې معدن کې د اوسپنې په غنې منرالونو کې د اوسپنې مقدار له ۲۰ سلنې څخه تر ۸۰ سلنې پورې چې په دې حساب سره په اوسطه توگه د اوسپنې لرونکو منرالونو زخاير د (يو) بيليون (يو مليارد) ټنو او د خالصې او سپنې اندازه پکې د (۱۱۰) ميليونو ټنو څخه په زياته اندازه محاسبه شويده، کشف او وړانديز وشو چې په دې معدن باندې د دقيق اکتشاف کارونه دې پيل شي.
د جيالو جيکي او معدني نقشو د کار په جريان کې د شباشک او دره سوف د ذغالو معدنونه هم کشف شول، د ذغال سنگو دغه معدنونه چې په ميليونونو ټنه زخيره لري د حاجي گک د اوسپنې معدن ته نژدې موقعيت لري او د انرژی ډيره ستره منبع ده چې د اوسپنې ياد معدن ته يو خاص اقتصادي ارزښت ورکوي.
همدارنگه د تخار په ولايت کې د نورابې او سمتي د په زابل کې د زرکشان د طلاو معدنونه،د بدخشان او پخواني کاپيسا (نننی پنجشير) په ولايت کې د لاجوردو او زمردو معادن، په نورستان، کونړ او لغمان کې د بيروجو، تورمالينو، کونسيتو او نورو قيمتي ډبرو، د کابل د سروبي په ولسوالي د جگدلک په سيمه کې د ياقوتو معدن، د هيلمند په ولايت کې د يورانيمو او رخام د ډبرو معادن او بلاخره د هيواد په ټولو سيمو کې ډول ډول فلزي او غير فلزي لوی او واړه معادن کشف شول اوپه ډيرو يې اکتشافي کارونه پيل شول. خو له بده مرغه د هيواد د جيالوجستانو دا هلې ځلې چې د وطن د پرمختگ او د اقتصادي حالت د ښه والي د پاره ډيرې په ځای او ضروري وې هم د سياستونو قرباني شوې او د رژيمونو په تغيريدو سره جنگ جگړو په ټپه ودرولې.
د اوږدو نا راميو او جگړو له امله تقريباً د ټولو معدنونو کار په مطلقه تو گه توقف شو يواځې د هيواد په شمال کې د نفتو او گازو په ځينو معادنو او د کابل په ۶۰ کيلو متری کې د لوگر د عينکو د مسو په کان باندې کار دوام وموند او د زياتو مالي او ځاني تاوانونو او تلفاتو سره د دې دولتي اکتشافي پروژو کارونه تر يوه حده پورې تر سره شول.
د عينک، دربند او جوهر په سيمو کې د مسو د معادنو د نا مکمل اکشافي کار په نتيجه کې د مس لرونکې کتلې اندازه يا مقدار (۲۴۰) ميليونه ټنه محاسبه شوه و چې په متوسطه توگه ۲،۵ سلنه خالص مس پکې وجود لري. د عينک د مسو کان په درې مرکزي، غربي او جنوبي برخو کې تر اکتشافي څيړنې لاندې ونيول شو. په دې معدن کې د مسو منرالونه عبارت دی له پيرايټ، سفاليرايټ ـ پيرايټ، چالکوپيرايټ، پيرايټ ـ چالکوپيرايټ، بورنايټ، چالکوپيرايټ ـ بورنايټ څخه چې په خپل ترکيب کې په کم فيصدي مقدار سره نور ثانوي يا Secondary منرالونه لکه د جستو، کوبالټو، نيکلو، ماليبدينو، طلاو، نقرې او پلاتينو هم لري چې په ټوله معدني کتله کې يې مقدار تر زرونو ټنو پورې رسيږي او د نوموړي معدن اقتصادي ارزښت ته مثبت تغير ورکو.
برسيره پردې معدن په نومړی مس خيزه ساحه کې د در بند او جوهر په سيمو کې هم د مسو لوی زخيرې کشف او تحقيقاتي څيړنې پرې وشوې. د وروستيو راپورونو (تر ۱۹۹۲ ميلادي کال پورې) له مخې د دې ټولو معدنونو په صنعتي کتگوريو محاسبه شوی زخيره د يوولسو ميليونو ټنو( ۱۱۰۰۰۰۰) په اندازه تثبيت شوه. برسير پردې له ۱۲

 څخه تر ۱۸ ټنو پوری طلا، له ۲۲ څخه تر ۲۷ ټنو پوری پلاتین ، له ۳۱ څخه تر ۴۳ ټنو پوری نقره اوو تقریباً په همدی اندازه نیکل، مالیبدین، کوبالت او ولفرام هم پکی محاسبه شول.
په ۲۰۰۶ میلادی کال کی د افغانستان د معادنو قانون پاس شو. د دی قانون له مخی اجازه ورکړله شوه چی دولت کولی شی چی په خپل هیواد کی موجود معدنونه خارجی کمپنیو ته په قراردادی توګه د استخراج د پاره ورکړی. د همدی قانون له مخی د (۲۰۰۷) کال د فبروری په میاشت کی د عینک د مسو کان د استرالیا، هند، چین، متحده ایالاتو او کانادا د (۹) کمپنیو ترمنځ د داوطلبی په نتیجه کی د چین د میتالورجیکی کمپنی د دی معدن د استخراج ګټونکی شوه. په هماغه وخت کی د متحده ایالاتو او کانادا کمپنیو په افغانستان کی د فساد یا(Corruption) لوړه کچه او د ثبات او امنیت د نشتوالی له کبله خبرداری ورکړ چی ممکن چینائي کمپنی خپلی ژمنی د افغان دولت سره د دی قرارداد له مخی سرته ونه شی رسولی. برسیره پردی یوه ډیره لویه پوښتنه داده چی ایا په دی قرارداد کی د پورته زکر شوو ثانوی منرالونو قیمت هم شامل دی کنه؟ دا پوښتنه ځکه ډیره مهمه ده چی په (۱۹۸۶) کال کی دوه هیوادونو د وخت شوروی اتحاد ( چی د افغانستان تقریباً ټول اختیارات یی په لاس ول) او د ایران اسلامی دولت دواړو د دی تقاضا درلوده چی د نوموړی معدن داستخراج قرارداد تر لاسه کړی.(زه هغه وخت د کانو او جیالوجی د اداری عمومی آمر وم) او د دی هیوادونو د هیئت سره د خبری کولو په ډله کی می برخه درلوده. د دواړو هیوادونو سره د دی معدن د استخراج معاملی یوائی د همدی ثانوی عناصرو د قیمت د ټاکلو له امله سر ونه نیوه. افغانی هیئت د مسو په مجموعی قیمت کی د ثانوی عناصرو قیمت ور زیاتاوه او مقابل لوری هغه له دی کبله چی د دی عناصرو لاس ته راوړل بیلی تخنیکی پروسی ته اړتیا لری او دوی په دی مرحله کی د هغی د حصول امکانات نه لری نو باید د معدن په قیمت کی ورداخل نه شی. ولی زمونږ د افغانی هیئت دلیل داو چی کله چی تاسو د معدنی کتلی شیره یا (Concentration) د غنی سازی تر مرحلی وروسته په لاس راوړی تو تُفاله چی د همدی
موادو لرونکی ده هم د راتلونکی استفادی د پاره زخیره کوی او دا د هر معدن نه د ګټی او چټونی یو بنیادی اصل دی چی د معدنی کتلی تُفاله د ثانوی عناصرو د حصول د پاره باید زخیره شی، نو دا چی په حقیقت کی معدن دی ولی د معدن په مجموعی قیمت کی ورزیات نه شی؟ په همدی علت د یوه هیواد سره هم قرارداد ونه شو او معدن د مجاهدینو تر بری پوری همداسی بی ګټی پاتی شو. داچی د چینایی کمپنی سره د قرارداد جزئیات نه دی څرګند او یا هم شاید زه پری نه یم خبر نو ځکه نه پوهیږم چی د عینک د مسو په معدنی کتله کی ثانوی منرالونو ته د قیمت ورکولو یا نه ورکولو حالات به څه ډول وی؟

د لمړی برخی پای

نور بیا